نجیب منلی ۲۰۱۷/۱۱/۳۰

# ډیورنډ مړ دی او کرښه یې یوه حل شوې موضوع ده

د افغانانو په ګڼو ستونزو کې یوه دا هم ده چې ډېر مهم، حیاتي موضوعات یې پرې اینبي دي او خپله ډېره انرژي یې د فرعي، بې ارزښته یا کم ارزښته، ضمني، بې ګټو او حتی تاواني موضوعاتو شاربلو ته وقف کړې ده. په دې وروستیو کې هغه موضوع چې ډېرې خبرې او لیکنې پرې کېږي، سیاستوال مو ځان مجبور ګڼي چې پرې اعلامیې خپرې کړي، ځوانان مو ورته اور او لمبه دي، د ډیورنډ کرښه او د پاکستان له خوا د دغې کرښې په اوږدو کې د موانعو ایجادول دي.

په کابل کې د یوه، د جوړوونکو په وینا، علمي څېړنیز سیمینار په مناسبت ما ته هم بلنه راکړل شوه چې څه ووایم. هغه څه چې دلته یې ویل غواړم نه یوه علمي مقاله ده او نه د یو څېړنیز کار پایله ده. دا د یو عادي افغان– چې د خپل هېواد او خپل ولس برخلیک ورته بې تفاوته نه ښکاري – فردي نظر دی. هر څوک یې د نقد کولو، ردلو، منلو او نه منلو حق لري ځکه چې زه یې ځان ته د ویلو حق ورکوم.

د ډیورنډ کرښې په اړه خبرې کول، که له تاریخي چوکاټه بهر وي، د وخت ضایع کول دي.

د ډیورنډ کرښه یوه حل شوې موضوع ده. لږ به په دقت ورته زیر شو چې زما په نظر ولې دا موضوع حل شوې ده.

## ۱ – د افغانانو له پاره

د افغانانو له پاره دغه کرښه واقعي وجود نه لري، د کاغذ پر مخ یوه کرښه ده او د افغانانو له پاره همدومره اهمیت لري لکه پر سالنګ چې واوره وښوییږي. د تلو را تلو پر مهال یې له ستونزو سره مخ کوي، نور هېڅ.

څرنګه چې د افغانانو له پاره دغه کرښه یو فرضي، موهوم مفهوم دی نو په اړه یې اوږدو بحثونه ته ضرورت نه شته. د افغانستان په تاریخ کې د ډیورنډ کرښې په نامه یوه موضوع مطرح شوې چې یوازې د یوې تاریخي ښکارندې په حیث پرې بحث کېدلای شي او ممکن دغه بحث بې ګټې هم نه وي خو د یو سیاسي واقعیت په توګه پر دې موضوع بحث هېڅ ډول توجیه نه لري.

افغانان، د یو ملت په توګه، د خپلې جغرافیې پر یوې برخې له واکه محروم شوي دي. لکه ګوزڼ وهلي ته چې دا مهمه نه ده چې د بدن هغه برخه چې دی یې له کنټروله محروم دی، دقیقاً کومه برخه ده هماغسې استعمار خپلې

افغانستان ته دا مهمه نه ده چي دقيقاً د خپلي ځمکنی بشپړتیا د محدودیت کچه معلومه کړي، بلکي دا ورته مهمه ده چي څنګه له دغه رنځه خلاصېدای شي.

په تاریخ کي ډېر ځله لیدل شوي چي د یو اجبار له مخي ولسونه سره بېل شي. دلته بیا ولسونه کولای شي بېل بېل غبرګونونه وښیي. یا خپل دغه بېلتون د یو ارزښت په توګه و ساتي او د وخت په تېرېدو زاړه روابط په نوو، متفاوتو اړیکو بدل شي. یا دا بېل شوي ولسونه خپل یو والی د یو ارزښت په توګه وساتي او که چي اجبار له منځه ولاړ شي بېرته سره یو ځای شي.

په همدې وروستویو څو لسیزو کي موږ د یوشمېر دغو ډولونو جوتي نموني لرو:

- د برلین دېوال په نړیوالہ کچه منل شوی بین المللي سرحد و خو المانانو خپل ملي یو والی تر سرحدونو اخوا و ساتلای شو او کله چي د اجبار کرښي له منځه ولاړې د برلین دېوال ونړېد، المانان سره یو شول. خو د همدغو المانانو تر منځ د جرمني او اطریش تر منځ بېلتون لا تر اوسه پاتي دی او یو بل ته د دوو بېلو ملتونو په سترګه ګوري. همدغه راز د چین او هانګ کانګ بېلتون د چین د حکومت او د هانګ کانګ دوګړو په ګډه پرېکړه ختم شو.
- اسراییلو د پلستین خاوره اشغال کړي ده، نه پلستینیانو دا اشغال منلی، نه نړیوالي ټولني په دې سیمه کي اوسنی د بېلتون کرښي منلي دي خو د اسراییلوحکومت په وچ زور پر خپل دریځ ولاړ دی او د پلستین ازادي غوښتونکي نهصتونه د خپلو ځمکو د بېرته ګټلو په موخه لا هم په جهاد لګیا دي.
- د شمالي او سوېلي کوریا تر منځ د بېلښت کرښه که څه هم د دوو حکومتونو د واک ساحه سره وېشي خو تر اوسه هېڅ کوم قانوني یا شبه قانوني سند د کوریایانو تر منځ بېلتون نه دی توثیق کړی.

نو د افغانستان ولس به هم خپلي وارې ته ګوري او په مناسب وخت کي به مناسبه پرېکړه کوي.

یوه خبره چي واضحه ده هغه دا ده چي د حق اخیستلو له پاره باید لازم ځواک موجود وي. د ولسونو تر منځ دا لازم ځواک یا نظامي ځواک دی، یا اقتصادي او یا دواړه.

د افغانستان او پاکستان تر منځه د ځمکنی بشپړتیا دعوه په نظامي ځواک نه شي حل کېدای، یوائینی لار یي دا ده چي افغانستان له اقتصادي پلوه نه یوازې دا چي پر ځان تکیه شي بلکي د کرښي اخوا پرتو ولسونو ته د جاذبي مرکز هم شي.

تر څو چي افغانستان د خپلي ځمکنی بشپړتیا له پاره لازم ځواک پیدا کوي تر هغو ورته د ډیورنډ د کرښي په اړه هر ډول خبرې او د حل تجویز نه ګټور دی او نه ممکن.

د دې لنډکي بحث نتیجه دا ده چي اوس د افغانانو له پاره د ډیورنډ معضله څکه حل شوې بلل کېدای شي چي افغانان په شعوري توګه پر دې موضوع له هیچا سره، هېڅ ډول خبرو ته حاضر نه دي.

### ۲ ــ له کرښي اخوا افغانانو ته

د کرښي اخوا افغانان خپل افغاني هویت ډېر ښه پېژني او په ساتلو کي یي د چا لارښوني ته اړتیا نه لري. هغوی خپل افغانیت له هېڅ کومي دولتي دستګاه سره نه دی تړلی.

د سیاسي جوړښت له لحاظه هغه افغانان د پاکستان په سیاسي جغرافیه کې واقع دي ټول هغه خدمات چې یو حکومت او یو دولت یې باید خلکو ته وړاندې کړي د پاکستان له حکومته غواړي. بله هېڅ داسې مرجع هم نه شته چې دا افغانان د خپلو انساني – ټولنیزو اړتیاوو د رفع کولو له پاره مخ ورواړوي.

د افغانستان حکومت په تېرو ۱۲۴ کلونو کې هېڅکله د افغان ملت دې برخې ته د هېڅ ډول خدماتو د تامینولو له پاره کوم وړاندیز نه دی درلودلی او نه یې نن لري نو هغوی په خوښه، یا له مجبورۍ ورځې، له خپل پاکستاني تابعیت سره ګوزاره هم کوي او ساتي یې هم. له لوړو حکومتي مقاماتو اخوا، کله هم چې د افغانستان افغانان د کرښې اخوا افغانان یادوي نو ځان یې «مشر ورور» بولي خو په څه باندې یوه پیړی کې یې د مشرتابه هېڅ ډول مسوولیت ته غاړه نه ده ایښې.

د پښتونخوا او بلوچستان سیاسي ګوندونه هم په یو درې ګوني جال کې نښتي دي: له یوه لوري باید د یو موجود حکومتي جوړښت دننه خپل مدني هویت تثبیت کړي او د پرېکړو په دولتي او حکومتي مراکزو کې د غږ پورته کولو ځای ولري، له بل لوري باید د خپلو ولسونو له پاره – د خپلو سیاسي ایدیولوژیو مطابق – د ژوند امکانات و پلټي او په دریمه مرحله کې باید خپلې تاریخي او فرهنګي جرړې خوندي کړای شي. د دوی له پاره هم دا کرښه د یو ځمکني واقعیت په توګه د محدودیتونو یوه سرچینه ده، خو د اوس له پاره پرې – دیو څو احساساتي څرګندونو اخوا - څه ویل او څه کول په ګټه نه بولي.

په دې شرایطو کې د کرښې اخوا افغانانو ته د کرښې ماهیت ښه پوره واضح دی چې د حکومتونو د حاکمیت ساحه یې سره بېله کړې خو د انسانانو پر ژوند چندان اغیز نه لري نو ځکه د کرښې په اړه سوال هم ورسره نه مطرح کېږي.

## ۳ – د افغانستان دولت او حکومت ته:

د افغانستان حکومت هم هېڅکله دغه کرښه د دوو ملتونو تر منځ د بېلښت د کرښې په نامه نه ده پېژندلې. د تاریخ په بېلابېلو مقاطعو کې یې دا کرښه فرضي بللې ده. د لویو جرګو په کچه د دې کرښې شتون رد شوی دی.

له بده مرغه د افغانستان حکومتونو په تېرو یو سل او څلېرویشت کلونو کې د افغانستان دې ستونزې ته هغه توجه نه ده کړې لکه چې په کار وه. خو دا زموږ د هېواد یواځېنې ستونزه نه ده چې حکومتونو ورته توجه نه ده کړې: د افغانستان اوبه، د افغانستان کانونه، د افغانستان ځنګلونه، د افغانستان کرهنه، د افغانستان صنعتي پر مختګ، په افغانستان کې د بې سوادی، د بې کورۍ، د ناروغی او په لسګونو نورې ستونزې هم د افغانستان د حکومت له نظره لوېدلې دي. لکه څومره چې د بېلابېلو حکومتونو او حاکمانو کړنې او دریځونه د هېواد د نورو بنسټي ستونزو په اړه مهم دي، هماغومره د حکومتونو او حاکمانو دریځونه د ډیورنډ د کرښې په اړه هم د پام وړ دي. قضاوت پرې کولای شو، غندلای یې شو، حتی د نه پاملرنې له پاره ریښتیا او دروغ دلایل یې هم تراشلای شو خو د یو جوت، مثبت، عملي سیاست نوم نه شو ورکولای.

په تېرو څو کلونو کې چې د کرښې په اړه هر ډول اوازې خپرې شوې دي، د افغانستان د حکومت چارواکو، د بهرنیو چارو د وزیر، د ملي امنیت د سلاکار، اجراییه رییس او حتی د ولسمشر له خوا دا خبره په خورا صراحت شوې ده

چې دوي هېڅکله، په هېڅ رسمي او نا رسمي ناسته کې، له هيچا سره د افغانستان پر سرحدونو خبرې نه دي کړي او په لسګونو دوه اړخيزو تماسونو کې د پاکستان له لوري هم پر دې موضوع تماس نه دی نيول شوی. د يو غوڅ دريځ له نه شتون سره سره همدغه ځرګندوني کفايت کوي چې پر ډيورنډ کرښې بحث کول منتفي وبلل شي يا په بل عبارت افغانستان په دې نامه د خبروکومه موضوع نه پېژني.

### ۴ – د پاکستان له پاره:

د افغانانو تر منځ يوه حاکمه خوشباوري دا ده چې ګوندې د پاکستان حکومت له افغانستانه غواړي چې کرښه په رسميت وپېژني. د پاکستان حکومت په واورو وارو، په صراحت سره ويلي دي چې هغوی د ډيورنډ د کرښې په نامه کومه بين المللي لانجه نه پېژني، له افغانستان سره د پاکستان پوله مشخصه ده، او په نړۍواله کچه منل شوې ده. که د پاکستاني مقاماتو له خوا په تېرو څو لسيزو کې له افغانستان سره د سرحدونو خبره کله مطرح شوې هم ده د دې په نامه وه چې د اسلامي نظام په چوکاټ کې موجود افغانستان هم په پاکستان کې مدغم شي. په لنډو، که د پاکستان حکومتي مشرانو د خپل شمالي سرحد له پاره کوم خط ټاکلی هم وي، هغه د ډيورنډ کرښه نه، د آمو سين يا کم له کمه د هندوکش څوکې دي.

په دې توګه په وضاحت سره ويل کېدای شي چې د پاکستان له پاره ډيورنډ يوه حل شوې موضوع ده چې د هېڅ ډول خبرو او مناقشي ځای په کې نه شته.

په ځينو ځايونو کې پاکستاني پوځيان د افغانستان ځينو ولسواليو ته راننوتي دي خو دا کار يې په پټه خوله کړی دی. که په ځينو سيمو کې د پاکستان حکومتي چارواکو افغانانو ته «شناختي کارډونه» هم وېشلي دي په دې نامه يې وېشلي چې د دغو سيمو پر وګړو خپله سياسي واکمني تثبيت کړي.

دا به د پاکستان د سياستوالو له پاره سخته خامي وي چې هغه څه چې دوی يې خپل ګڼي، نړۍوال يې هم د دوی بولي، له ګاونډي هېواد څخه په سوال يا چل يا زور وغواړي.

### ۵ – نړۍوالو ته:

نړۍوال، د پاکستان له ايجاد راهيسې د دغه هېواد موجودې پولې يا د نړۍوال سرحد په نامه پېژني او يا يې – په کشمير کې – د کنټرول د کرښې په نامه پېژني. د پاکستان او افغانستان ترمنځ کرښه د نړۍ د ټولو هېوادونو او ټولو نړۍوالوسازمانونو له خوا د بين المملي پولې په حيث منل شوې ده او حتی امريکا – چې د خپلو نظامي عملياتو له پاره پر کرښو سترګې پټوي – د افغانستان او پاکستان تر منځ شته کرښې ته د يو نړۍوال سرحد په حيثيت قايله ده.

## خلاصه:

که له هرې زاويې ورته وګورو، د ډيورنډ کرښه – منلې وي او که نا منلې – يوه حل شوې موضوع ده چې بحث پرې هېڅ منطقي توجيه نه لري.

په افغانستان کې ځیني سیاسي ځېرې داسي ښيي چې ګواکي په افغانستان کې د پاکستان د تخريبي فعالیتونو انګېزه دا ده چې افغانان د ډیورنډ کرښه په رسمیت و پېژني. دا سیاسي ځېرې په دريو کورنيو تقسیمولای شو:

- لومړۍ کورنۍ هغه سیاسي کړۍ دي چې د لوی، خپلواک مقتدر افغانستان په چوکاټ کې واک ته د رسېدو له پاره خپل امکانات محدود بولي. دا کړۍ، چې د شلمي پیړۍ له دريمي لسيزې را په دې خوا په بېلابېلو نومونو په افغانستان کې فعالي دي، حتی د افغانستان له نامه او ملي هويت سره هم ستونزې لري او منلو ته يې تیارې نه دي. دوی د افغانانو يو ملت ګڼلو ته هم اماده نه دي، د قومونو تر منځ کرښې وباسي او د افغانستان او افغانانو د وېشلو له پاره هلې ځلې کوي. د دوی هدف دا نه دی چې د ډیورنډ په پېژندلو به د افغانستان ستونزې هوارې کړي بلکې پر لا وړو ټوټو د افغانستان د وېشلو له پاره د يوې تاريخي مخينې د پیدا کولو په هڅه کې دي.
- دويمه کورنۍ هغه خام سیاستوال دي چې د لومړۍ کورنۍ له پټو اهدافو بې خبره دي خو ظاهري استدلال (د پاکستان د جنګي انګېزې تصور) ورته د منلو وړ ښکاري. دوی په ناپوهۍ کې غواړي چې د افغانستان د وجود د يوې برخې د قربانولو په بيه به وکړای شي چې د خپل واک د تداوم لارې پرانیزي.
- دريمه کورنۍ هغه احساساتي افغانان دي چې فکر کوي چې اوس د افغانانو تر منځ بېلښت هغه حد ته رسېدلی چې نور يې د يو ځای کېدلو هیله نه شته نو باید - د واقعبینۍ په مقتضی – هغه افغانان پر خپل حال پرېښودل شي او د پاتي هېواد غم وخوړل شي. په دې کورنۍ کې هغه کسان هم شمېرل کېدای شي چې د ناسم سیاسي درک له مخې خپلې شخصي عقدې د هېواد د برخلیک په اړه بحثونو کې راسپړي.

## ځمکني واقعیتونه:

د کرښې اخوا ساحه عملاً د پاکستان تر حاکمیت لاندې ده. سره له دې چې په پښتونخوا، سندهـ او بلوچستان کې بېلتون پلوي جریانونه شته خو لا يوه هم په ځرګندو ټکو کې تر بېلتانه وروسته د خپلې اړوندې سیمې د سیاسي برخلیک په اړه واضح تصوير نه دی وړاندې کړی.

له کرښې دې خوا هم که د حاکمیت مظاهرو ته وګورو د افغانستان د حکومت عملي کمزورۍ د افغانستان ملي حاکمیت له سترو ننګونو سره مخ کړی دی. د هېواد په ګڼو ولایتونو کې د ګاونډيو هېوادونو په اسعارو پېر او پلور کېږي. په ګڼو خصوصي ښوونځيو کې د ګاونډيو هېوادونو نصاب تطبیقېږي. د عدالت د تطبیق په برخه کې بیا کورني مخالفین پراخه ونډه لري، د رسنيو تمويل د پرديو په لاس کې دی او نور هېوادونه د دولت په چوکاټ کې له بېلابېلو لارو پراخ نفوذ لري. د ملي حاکمیت دا ټول محدوديتونه، هر يو پر خپل ځای د افغانانو له پاره يوه ننګونه ده خو بنيادي ستونزه يې نه شو بللای. په همدې عنوان، د افغانستان د ملي جغرافيي وېشلی حالت (د افغانستان پر يوه برخه خاوره او يوه برخه وګړو د بل هېواد عملي حاکمیت) د ملي حاکمیت د محدودتيا يوه بڼه ده خو د هېواد بنيادي ستونزه نه شي ګڼل کېدای.

## د افغانانو معقول ځواب:

د افغانانو له خوا د ډیورنډ د کرښې په اړه د يو معقول دريځ د موندلو په هڅه کې لاندې ټکو ته توجه حتمي ده:

## ۱ – زموږ سیاسي ادبیات

کله چې د افغانستان او پاکستان تر منځ پر ښو او بدو اړیکو خبرې کوو، په کار ده چې زموږ ژبه زموږ د سیاسي مدعا په خدمت کې وي.

- د ډیورنډ کرښې ته باید په هېڅ لیکلي متن، او شفاهي تبصرې په ترځ کې د پولې، سرحد، Border، صفري ټکی، یا زموږ په خپلو ژبو او بهرنیو ژبو کې دې ته ورته مفاهیم و نه کارول شي.
- د کرښې اخوا خاوره باید په هېڅ وجه پاکستان و نه بلل شي: که پاکستاني ځواکونه زموږ پر کلو او خلکو باندې ډزې او بمباري کوي دا ویل به درست نه وي چې د پاکستان له خاورې پر افغانستان ډزې وشوې. باید ووایو «د پاکستان پوځیانو ډزې وکړې». که موږ په پښتونخوا یا بلوچستان کې زده کړې کړې وي باید و نه وایو چې «په پاکستان کې مو زده کړې کړې دي»، پر ځای مناسبه وینا دا ده چې وویل شي «په پاکستاني پوهنتون، پاکستاني ښوونځي، پاکستاني علمي بنسټ کې مو زده کړې کړې دي». که موږ پېښور ته د تداوي له پاره ځو، که څه هم په پاسپورت او ویزه به ورځو، خو په خپلو څرګندونو کې باید و نه وایو «پاکستان ته د تداوی له پاره ځو» مګر ویلای شو چې په پلاني پاکستاني روغتون کې مې درملنه وکړه.
- کله چې پاکستاني ځواکونه د افغانستان د کومې ولسوالی په حدودو کې دننه کېږي. باید و نه ویل شي چې پاکستان د افغانستان خاورې کې مخې ته راغلی یا یې د افغانستان په خاوره کې عملیات کړې دي.
- ټول هغه تاسیسات چې د پاکستان حکومت یې د آمو او اباسین ترمنځه پرته جغرافیه کې د افغانستان د حکومت له اجازې او همکارۍ پرته جوړوي، نامشروع تاسیسات دي. په دوی کې ځینې تاسیسات ګټور دي (لکه ښونځي، روغتونونه، سړکونه، پلونه، صنعتي مرکزونه او نور) چې باید ملاتړ یې و شي او ځینې تاسیسات مضر دي (لکه نظامي اډې، د خلکو د تګ را تګ محدودوونکي موانع) چې باید وغندل شي. له همدې امله د پاکستان د حکومت له خوا د اغزنو تارونو غزول که د افغانستان د جغرافیې په هره برخه کې وي په یو شان د غندلو وړ دي. د ډیورنډ پر کرښه د اغزنو تارونو غځول او د نورو موانعو جوړول باید و غندل شي مګر تر هغو موانعو زیات اهمیت ور نه کړ شي چې په سوات او پېښور کې جوړېږي.
- د هغو کسانو په اړه چې د کرښې اخوا اوسېږي او دې خوا تخریبي عملیات کوي باید په کلکه د «پاکستاني» د صفت له کارونې ډډه وشي. په ننګرهار کې د داعش جنګیالیو په لیکو کې ورکزي باید «پاکستاني» و نه بلل شي خو د پنجاب اوسېدونکي ریښتیا هم پاکستانیان دي.

د ادبیاتو دغه بدلون هم باید د حکومت په سطحه رامنځ ته شي، هم د رسنیو په سطح او هم د ولس په سطح. دې ټکي ته پاملرنه د مدني فعالانو کار دی او ځانګړی مسولیت هغو مدني/سیاسي فعالانو ته راجع کېږي چې د لوی افغانستان داعیه یې د فعالیتونو مرکزي ټکی وي.

## ۲ – د تابعیت حق

ټول افغانان، چې د تاریخي افغانستان له هرې برخې سره تړاو ولري باید د تابعیت حق ولري. لکه څرنګه چې د ننګرهار وګړی د تابعیت د تذکرې او افغاني پاسپورټ د درلودلو حق لري همدغه حق باید پرته له هېڅ قید او شرطه

د کربښي اخوا افغانان چي له کشميره تر بلوچستانه پراته دي هم ولري. دا چي هغوی له خپل دغه حق څخه استفاده کوي او که نه دا د هغوی خپل انتخاب دی خو هر کله چي يي غوښتنه وکړي بايد د نورو افغانانو په څېر ورته اسناد ورکړل شي. غالباً چي دا کار به له حقوقي پلوه هم کومه ستونزه و نه لري او د هېڅ قانون تعديل ته به اړتيا نه وي. شوني ده چي ولسوالان په خپل صلاحيت دغه ډول اجراآت وکړي خو که د حکومت له خوا يو واضح دستور موجود وي کارونه به اسانه کړي.

## ۳ – د تګ راتګ او مېشتېدو حق

ټول افغانان، چي د تاريخي افغانستان له هرې برخي سره تړاو ولري، د افغانستان هرې سيمي ته د تګ را تګ او هلته د مېشتېدو حق لري.

کله چي د کربښي اخوا افغانان له کربښي را اوړي نو افغان پوليس بايد ترې يا د ويزې غوښتنه و نه کړي او يا ورته په اتوماتيک ډول د کربښي د اووښتو پر مهال ويزه ورکړي. دا مهمه نه ده چي د پاکستان حکومت د افغانستان له اتباعو د پاسپورت او ويزې غوښتنه کوي خو دا مهمه ده چي د افغانستان حکومت دغه ډول غوښتنه له هغو افغانانو و نه کړي. دا کار هم د حکومت په سطح يو ساده تصميم غواړي، له حقوقي پلوه به کوم خاص موانع نه وي.

## ۴ – د کار شرايط

د افغانستان د کار په بازار کي بايد د کربښي اخوا افغانانو ته د بهرنيو کارګرو په سترګه و نه کتل شي او – پرته له دې چي د هغوی په لاس کي شته د هويت اسناد په نظر کي ونيول شي – د هغوی جغرافيايي منشاء بايد هغوی ته د يو عادي افغان کارګر له ټولو حقوقو د استفادې موجب وبلل شي.

## ۵ – د تعليم امکانات

د افغانستان ټول تعليمي مرکزونه – ښوونځي او پوهنتونونه – خصوصي وي که دولتي بايد د ټولو افغانانو پر مخ پرانستي وي.

## ۶ – پارلمان

د افغانستان په پارلمان کي بايد د افغانستان د حکومت د عملي حاکميت څخه وتلو جغرافيايي سيمو اوسېدونکي بايد د افغانستان په پارلمان کي خپل استازي ولري. څرنګه چي د نړۍوالو تعاملاتو له مخي له کربښي اخوا د افغانستان د پأرلمان له پاره د انتخاباتو امکان نه شته نو په کار ده چي د دغو استازو د غوراوي له پاره يو مناسب او باوري سيستم ايجاد شي.

دا کار شايد د اساسي قانون تعديل وغواړي او په اوسنيو شرايطو کي به ډېر عملي نه وي. تر هغو چي د قانون د تعديل شرايط مساعدېږي د افغانستان موجود پارلمان کولای شي د کربښي د هغي غاړې د افغانانو له استازو جوړه شوې يوه مشورتي کميته ولري چي د قوانينو په تصويب کي يي نظر وپوښتل شي.

پای